# په جمهوری کروشیا کی دبین المللی پناه غوښتونکو لپاره معلومات

PAŠTU

## د اروپايي ټولنې (اي يُو) هېوادونه

1 آسترِيا
2 بِلجيم
3 بلغاريه
**4 کروآتَيا**
5 سيپروس / قبرس
6 چک جمهورية
7 ډينمارک
8 استونيا
9 فينلينډ
10 فرانسه
11 آلمان/ جرمن
12 يونان
13 هنګري
14 ايرلينډ
15 ايټاليا
16 لتوني / لتويا
17 ليتوانيا
18 لوګزامبورګ
19 مالتا
20 هالينډ
21 پولينډ
22 پورتګال
23 رومانيا
24 سلواکيا
25 سلوانيا
26 هسپانيه
27 سويډن
28 اِنګلستان



## 7 آیا زه دقانونی مرستې مستحق یم؟ هو!

هغه کارمند څوک چی تاسو سره خبری کوی کله چی ستاسو اراده دبین اللملی تحفظ لپاره عریضه قبلوی دهغه دا دنده ده چی تاسو ته دبین اللملی تحفظ کړنلاری په باره کی معلومات در کړی. تاسو ته به نور تفصیلی معلومات درکړل شی کله چی ستاسو عریضه دبین اللملی تحفظ لپاره واخستل شی.

که تاسو خپلی پیسی لرئ نو تاسو وکیل بوختولی شئ.

تاسو دخپل کیس په حقله دقانونی معلومات لرلو حق لرئ، رسمی کارمند ته توجه وکړی چی تاسو ته لارښوونه وکړی چی په دی حقله تاسو ته څوک معلومات دروکول شی.

که ستاسو عریضه مسترد شی او تاسو سره پیسی نه وی تاسو د اداری محکمې مخکی د اپیل لیکلو لپاره د مفت قانونی مرستی حق لرئ.

تاسو ته به دقانونی مرستی کوونکو وکیلانو لست درکړل شی څوک چی ستا دبین اللملی تحفظ لپاره عریضی باندی فیصلی دپاره قانونی مرسته درکړی.

دلته څه تنظیمونه هم شته څوک چی تاسو ته قانونی معلومات درکولې شی یا ددی ټول کړنلاری په جریان کی مشوره درکولې شی. تاسو دکروشین قانونی مرکز سره اړیکه ټینګولې شئ تاسو دهغی دټیلیفون شمیره ددی معلوماتی پاڼې په آخر کی موندلی شئ.

## 8 آیا زه کوم بل حقوق او فرائض لرم کله چی زه دخپل بین اللملی تحفظ لپاره دعریضی فیصلی ته منتظر یم؟ هو!

که چیرته تاسو سخت ناجوړ ئی نو تاسو دطبی مرستی حق لرئ، ماشومان دابتدایی او دثانوی تعلیم حق لري، تاسو په خپل دین او مذهب باندی چلېدو حق لرئ په داسی حال کی چی نورو خلقو په امن کی خلل وا نه چوی.

تاسو باید دکروشیا قانون او کړن لارو (مقرراتو) سره موافق اوسئ او ورسره د استقبالی مرکز دقوانینوهم خاطر وکړی او کارمندانو سره مرسته وکړی.

> دداسی حقوق تفصیل د یو کارمند نه وغواړئ

تاسو باید دخپل ادرس بدلیدو اطلاع یوکارمند ته په دوه ورځو کی دننه ورکړئ.

## 9 تر څو چی زما عریضه فیصلی ته پرته وی زه به چرته پاتی کیږم؟ دپناهندګانو داستقبالی مرکز کی!

دپناهندګانو داستقبالی مرکز کی تاسو ته به مفت استوګنه درکولی شی، ورسره په ورځ کی دری (۳) وخت خوراک، او دصفائی سامان. که ضروری وی نو تاسو څپلئ او جامې هم اخستی شئ.

استقبالی مرکز کی به تاسو دخپل هم جنسیانو داسی خلقو سره اوسئ څوک چی تاسو نه پیژنئ. تاسو دهغوی دعاداتو او توپیر عزت وکړئ او د استقبالی مرکز د کارمندانو دلارښودنی اطاعت وکړئ. که تاسو خپل کورنی سره راغلی ئی نو تاسو به یوځای اوسیږې.

که تاسو هیله لری چی تاسو داستقبالی مرکز پریږدئ نو تاسو باید یو کارمند ته ددی په حقله خبر ورکړئ.

که چیری تاسو خپلی پیسی لری نو باید تاسو داستقبالی مرکز کی داستوګنی مصارف ورکړی. که چیری تاسو خپلی پیسی لری نو داستقبالی مرکز نه دباندی هم استوګنه کولی شی خو ددی اجازه به حتماً دکارمند نه واخلئ. ددی تصدیق وکړئ چی هغه ټول خطونه، اطلاعیه، بلنی کوم چی دوزارت داخلی لخوا تاسو ته لیږل کیږی ستاسو په خپل شخصی ادرس باندی تاسو ته ورسیږی. (خپل نوم او دکورنئ نوم ددروازی په زنګ کی او خپل میل بکس (دخطونوصندوق) باندې اولیکی، ګنی مناسبه اداره نشی کولی چی تاسو ته رسمی اطلاع یا سمن درولیږی. په داسی صورت کی کارمند به دا فکر کوی چی تاسو دکروشیا نه تللی ئی او ستاسو دبین اللملی تحفظ ورکولو کړنلاری به فسخ کړی شی.

> د یو بین اللملی پناه غوښتونکی په حیث تاسو په کروشیا کی داستوګنی اجازه لرئ او تاسو د کروشیا په ټولو سیمو کی آزاد ګرځیدی شی. داستقبالی مرکز دپریښودو نه وړاندی، تاسو باید یو لایق کارمند ته خبر ورکړئ او دهغه ساعتونو په دوران کی کوم چی دمرکز قانون کی واضح شوی وی تاسو باید په استقبالی مرکز کی په لیلیوکی وئ پرته له دې ستاسو غیر حاضری به داستقبالی مرکز کارمند لخوا تائید شوی وی. هیڅ کله کروشیا مه پریږدئ په داسی حال کی چی دبین اللملی تحفظ ورکولو کاروائی فیصلی ته پرته وی. په دی تاسو ناغه کیدې شی چی په نتیجه کی ستاسو په تګ را تګ پابندی کیدی شی.

## 10 ولې زه دغیر ملکیانو په استقبالی مرکز یژیوو (Jezevo) (یو توقیف سنټر) کی ځای په ځای شوی یم؟ ځکه چی ستاسو دګرځیدو آزادی محدوده کړې شوې ده!

ددی څو دلیلونه کیدی شی چی تاسو دغیر ملکیانو په استقبالی مرکز کی ځای په ځای شوی ئی په یژیوو (Jezevo) کی.

د بین اللملی پناه غوښتوونکی په یژویو (Jezevo) کی دخارجیانو استقبالی مرکز کی عموماً په دی وجه ځای په ځای شوی وی چی دوی دی مرکز ته د راوستو نه وروسته دتحفظ ادعا کړی وی په داسی حال کی چی ددوی دکروشیا نه دبیرته لیږول کړنلاره روانه وه.

کیدی شی چی تاسو دخارجیانو استقبالی مرکز یژویو (Jezevo) کی ځای په ځای شوی ځکه چی تاسو دکروشیا پریښودو غیرقانونی کوشش کړی وی مخکی ددی نه چی دبین اللملی تحفظ دپاره کاروائی ترسره شوی نه وی. او یا ځکه چی دا ضروری وه چی هغه حقائق او حالات ثابت شی په څه چی ستاسو دعریضی بنسټ وی. او یا ستاسو د تښتیدوخطره وی. او یا دا به ضروری وی چی کروشیا دولتی لارښودنی او دملی امنیت ساتنه وکړی. او که ستاسو هویت یا قومیت واضح نه وی شوی او که شک وی چی ستاسو عریضه دبین اللملی تحفظ اجرا کولو طریقه کار غلط استعمال شوی دي.

> تاسو دډیر زیات تفصیل خواست کولی شئ چی تاسو ولی په دی مرکز کی ځای په ځای شوی ئی دهغه کارمند نه څوک چی تاسو ته په دی مرکز کی دپاتی کیدو فیصله درکوی.
>
> ---
>
> تاسو په یژویو (Jezevo) کی داستوګنی درسمی فیصله ترلاسه کولو حق لری او ددی فیصلی په خلاف په اداری محکمه کی اپیل کولې شئ.

## 11 که زه دبین اللملی تحفظ په حقله منفی فیصله ترلاسه کړم نو څه؟ تاسو اپیل کولې شئ!

- داسی (منفی) فیصله به داسی لارښودنو سره پای ته رسی چی په څومره وخت کی تاسو په اداری محکمی کی خپل ادعا جمع کړی.
- که چیری تاسو دبین اللملی تحفظ دپاره دمنفی فیصلی په خلاف خپل ادعا جمع نه کړه او یا که ستاسو ادعا مسترد شوه نو تاسو به کروشیا پریږدئ. که چیری تاسو کروشیا پرینښودو نو تاسو به دغیر قانونی استوګنی په جرم کی سزا درکول کیږی او تاسو به په یژویو (Jezevo) کی دخارجیانو داستقبالی مرکز کی ځای په ځای کړی دچیرته نه چی تاسو به دکروشیا نه بیرته لیږل کیږئ.

> محتاط اوسئ چی ددی ادعا (اپیل) جمع کولو وخت عموماً لږ وی فوراً پری عمل وکړئ او قانونی مرسته تر لاسه کړئ.

## 12 که ماته تحفظ راکړل شی نو بیا څه؟

- تاسو ته په کروشیا کی دپاتی کیدو اجازه درکړل شی او تاسو به یو تعداد حقوق او ورسره څه فرائض ولرئ.

> د یو بشپړونه افسر لخوا به تاسو ته ستاسو دحقوقو او فرائضو په هکله نور تفصیلی معلومات درکړل شی، ورسره یو کتابچه چی په هغی کی دبنیادی څیزونو تفصیل وی کوم چی تاسو ته باید معلوم وی.

## 13 داسی نور څوک دي چی ورته دمرستی لپاره مراجعه کولی شم؟

که چیری تاسو ته دمرستی ضرورت دی نو تاسو یو این ایچ سی آر (UNHCR) ته مراجعه کولی شی یا نور اداری څوک چی دکډوالو دتحفظ لپاره کار کوی (معامله کوی).


دملګروملتونو دکډوالو عالی کمشنری UNHCR
(OFFICE OF THE HIGH COMMISSIONER FOR REFUGEES)
راډ نیچکه سیستا ۷/۴۱ زاګرب
دټیلیفون شمیره: 00385(01)555-13-37
ویب ادرس: www.unhcr.hr
ای میل: HRVZA@unhcr.org

کروائشین لا سنټر: HRVATSKI PRAVNI CENTAR
(CROATIAN LAW CENTRE)
هیرانګووا ۲۱ زاګرت (Hebrangova 21, Zagreb)
دټیلیفون شمیره: 00385(01)965-73-48
ویب ادرس: www.hpc.hr, www.azil.com.hr
ای میل: hpc@hpc.hr

کروائشین ریډ کراس (صلیب سرخ)
HRVATSKI CRVENI KRIZ (CROATIAN RED CROSS)
اولیکا کروینوګ کریژا ۱/۱۴، زاګرب (Ulica Crvenog Kriza 14/1, Zagreb)
دټیلیفون شمیره: 00385(01)814-55-46
ویب ادرس: www.hck.hr
ای میل: azilhck@hck.hr

یسیوت ریفیوجی سروس
ISUSOVACKA SLUZBA ZA IZBJEGLICE (JESUIT REFUGEE SERVICE)
جودانویک ۱۱۰، زاګرب (Jordanovac 110, Zagreb)
دټیلیفون شمیره: 00385(01)29-40-235
ویب ادرس: www.jrs.hr
ای میل: jrs@jrs.hr

سنټر فار پیس سټیډیز
CENTAR ZA MIROVNE STUDIJE (CENTRE FOR PEACE STUDIES)
سیلسکا سیستا ۱۱۲ a، زاګرب (Selska Cesta 112a, Zagreb)
دټیلیفون شمیره: 00385(01)094-20-48
ویب ادرس: www.cms.hr
ای میل: cms@cms.hr

په زاګرب کی دقانون پوهنځی دقانون کلینک
PRAVNA KLINIKA PRVANOG FAKULTETA U ZAGREBU
(LAW CLINIC OF THE FACULTY OF LAW IN ZAGREB)
اولیکا جورجا زیرجاویکا ۶/۱۱، زاګرب (Ulica Jurja Zerjavica 6/11, Zagreb)
دټیلیفون شمیره: 00385(01)320-4811
ویب ادرس: www.klinika.pravo.unizg.hr
ای میل: klinika@pravo.hr


دغه خپرونه دپناه اخستونکو لپاره دیوی قانونی مرستی په توګه رامنځ ته شوی چی مالی چاری یی دملګرو ملتونو دکډوالوعالی کمشنری لخوا ترسره کیږی.

## 1 څه ډول پناه زه په کروشیا کی اخستې شم؟ پناهندګی یا فرعی پناهندګی؟

تاسی په جمهوری کروشیا کې یۍ ، تاسې فکر کوې چې په کروشیا کې تاسو ته دپناه ضرورت دې ځکه چی تاسی په خپل هیواد کې ځورول شوی یۍ یا تاسی یریږې چی تاسی یو ځانګړی نسل، مذهب، قومی یا اجتماعی ټولنې سره اړیکه لرې کوم چی ځورول شوی، یا تاسو د سیاسی عقیدې درلودو له کبله ځورول شوی یاستې. په دې ډول قضیو کی کروشیا تاسو ته پناه درکوی

که چیرې تاسی دې شرایطو باندې برابر نه یی نو کروشیا کولې شی چی تاسی ته فرعی پناه درکړی. فرعی پناه تاسی ته هغه وخت درکولې شي چی کله تاسی خپل هیواد ته په سبب د مرګ اخطار سزا یا اعدام، کړونه/شکنجه، غیر انسانی یا فاسد رویه یا سزا یا کله چی سخت شخصی خطر دیو ملکی غړی په حیث ستاسو ژوند ته وی په سبب دغوړیدلی تشدد ځکه چی دا د وسله والو دنښتی برخه ده.

> یو خراب اقتصادی حالت او په خپل هیواد کی بی کاری دا دپناه ورکولو دلیلونه نه شي کیداي

## 2 زه باید اول څه کار وکوم؟ دپناه غوښتنې لپاره خپل مقصد څرګند کړۍ!

دپناه غوښتنی لپاره بیړه وکړۍ ، یا څومره چی هم زر کیدی شی، څنګه چی زر کروشیا کی داخل شې (په سرحد کی، په حوزه کی یا اولنی پولیس افسر سره چی لیدنه شوی دی، یا دخارجیانو په استقبالیه سنټر کی) په استثنایی قضیو کی، د پناه اخستلو لپاره تاسی خپل مقصد په استقبالیه سنټر کی هم څرګندولې شې.

تاسی د پناه لپاره غوښتنه هغه وخت هم کولې شې کله چی تاسی په غیر قانونی توګه د ریاست سرحد نه د تیریدلو په وخت کی ونیول شۍ یا په کروشیا کی غیر قانونی اوسیږې. دپولیسو دپلټنی په دوران کی تاسی د ترجمان حق لرې.

په ساده الفاظو کی ووائی چی تاسی دپناه ضرورت لرې یا تاسو ته خپل وطن ته دبیرته ستنیدلو ویره ده یا ستاسو ژوند ته خطر دې، یا خپل وطن کی ځورول شوی یی. دا تاسی لیکلی هم شې او امضا ئی کړې او پولیس افسر ته ئی ورکړې. تاسی چې په هره ژبه کی لیکلی شی.

که چیری تاسی په کروشیا کی جعلی اسنادونو سره راغلی یی یا دا جعلی اسنادونه دبل چا سره اړه لری نو په ډاډه ووایۍ او واضح کړۍ چی دا ولی، که چیری تاسو سره خپل اسنادونه موجود وی هغوی ته ښکاره کړۍ.

که چیری پولیس تاسو محکمې ته بوځی، او تاسو کروشیا نه پناه غواړۍ، تکرار وکړۍ چی تاسی دپناه لپاره خواست کوۍ او ستاسو خواست په محکمې په ریکارډ کی ثبت شی.

ددی نه ورسته چی تاسو وویل چی تاسو ته د پناه ضرورت دې، ستاسو د ګوتی نښی به واخلی، که چیری تاسی د ۱۴ کالو څخه زیات وې او ستاسو عکس به واخستل شی. تاسو ته به یوه نیټه درکړل شی چی دهغی نه مخکښی به دپناه غوښتونکو استقبالی مرکز ته مراجعه وکړۍ.

که چیری تاسی د بهرینواستقبالی مرکز په یڅیو کی دپناه لپاره مراجعه کوې نو خپل انسپکټر/پلټونکی سره اړیکه اونیسی دا به غوره وی که تاسو دپناه غوښتن لیک په خپلی مورنۍ ژبی کی لیکلی وی یا په هرهغه ژبه چی تاسی ورباندی پوهیږۍ (انګلیسی یا بله ژبه).

که ستاسو عمر ۱۸ کالو نه کم وی او کروشیا ته یواځی راغلی ئی نو فوراً د استقبالی مرکز کارمند ته خبر ورکړۍ چی تاسو لپاره ساتونکی (سرپرست) مقرر کړی. ستاسو ساتونکی به د کړنلارو دوران کی ستاسو دحق تحفظ کوی. که چیری تاسو خپل ځان وړوکی معرفی کړې وی، او رسمی اداره/ مامور فیصله وکړی چی کیدای شی چی تاسو قانونی عمر لرۍ، طبی ماهرین ستاسو عمر ټاکلی شی.

## 3 کړنلاره څنګه شروع کیږی؟ د بین المللی تحفظ لپاره غوښتن لیک کله ثبت/ ریکارډ کیږی؟

پس له دی نه چی تاسو دپناه غوښتونکو په استقبالی مرکز کی ځای په ځای شۍ تاسو به داستقبالی مرکز یو کارمند سره د یو ترجمان په موجودګی کی مرکې لپاره رابللې شی. د مرکې په دوران به ستاسو د بین المللی تحفظ لپاره غوښتن لیک ریکارډ کولی شی. تاسو د مرکۍ نه وړاندی دا غوښتنه کولی شی چی ستاسو مرکه کوونکی او ترجمان دی هم ستاسي هم جنس وی. که چیری ممکن وی، نو داستقبالی مرکز کارمند به تاسو ته دا زمینه برابره کړی. داستقبالی مرکز کارمند به تاسو نه پوښتنه کوی چی خپل ابتدایی معلومات څرګند کړۍ، دهغی لاری تفصیل په کومه چی تاسو کروشیا ته را ورسیدۍ او دا څرګنده کړۍ چی ستاسو دپناه اخستلو دلیل څه ده. که چیری کوم سوال واضح نه وی دکارمند نه چاسره چی تاسو خبری کوۍ وضاحت وغواړۍ.

دا ضروری ده چی خپل ابتدایی شخصی معلومات رښتیا او صیح بیان کړۍ او ورسره زیات نه زیات تفصیل څومره چی ممکن وی دخپل دتښتیدو دلیل بیان کړۍ دا چی ولی تاسو خپل ملک پریښود او په کروشیا کی دتحفظ غوښتنه کوۍ. دغلط او دروغ معلوماتو د ورکولو په نتیجه کې ستاسو په غوښتن لیک باندی منفی پریکړه کیدې شی.

هغه ټول اهم او خاص اسناد کوم چی تاسو سره دي ذکر کړۍ که چیرته تاسو هیڅ یوسنَد نه لرئ ځکه چی تاسو په خپل ملک کی پریښودی دي کوشش وکړۍ چی هغه په کم وخت چی ممکنه وی ترلاسه کړۍ ځکه چی دا ستاسو دبین المللی تحفظ دغوښتنلیک د فیصلی لپاره ضروری دی.

که چیری دځورولو ویرې سره سره تاسو ته څه نور اضافی دلیل وی چی د هغی له کبله تاسو خپل هیواد ته بیرته نشی تللی په دی به خاص ټینګار وکړۍ کله چی ستاسو دبین المللی غوښتن لیک ریکارډ کیږی. ددی دلایلو په بنسټ به تاسو ته فرعی پناه درکولی شی.

## 4 د ډبلن طریقه کار ولی تعین کیږی؟ ددی لپاره چی ستاسو په غوښتن لیک فیصله کول کوم یو ریاست مسؤل دی.

په خاص قضیوو کی کروشیا به مسؤل نه وی چی دا تجزیه وکړی چی آیا تاسو دپناه ضرورت لرۍ. مګر یو بل هیواد د اروپا اتحاد(یورپین یونین) یا آئی لینډ، لیچټن سیټن (Lichtenstein)، ناروی، یا سویټزرلینډ.

> که چیری تاسو دخپل کورنۍ غړی په کوم بل داروپا اتحاد (یورپین یونین) غړی ملک کی لرۍ نو تاسو د کورنۍ د بیا یوځای کیدلو غوښتنه کولې شۍ!
>
> ددی نه مخکی چی تاسو ته اطلاع درکړی دا به څه وخت نیسی چی کوم هیواد ستاسو دغوښتنلیک دڅرګندونی مسؤل دی، نو ځکه صبر به کوی.

- که چیری تاسو کم عمره (ماشوم) یی او ستاسو کورنۍ په پورته ذکر شویو کوم یو هیواد کی استوګنه لری.
- که چیری ستاسو کورنۍ غړی (د مثال په توګه خاوند، ښځه، ماشوم) چا چی مخکی نه په پورته ذکر شوو یو هیواد کی تحفظ ترلاسه کړې دې.
- که تاسوسره د پورته ذکر شویود یو هیواد د کار اجازه نامه وی یا ویزه صادره شوی وی.
- که چیری په پورته ذکر شویو یو هیواد کی ستاسو دګوتو نښی د یو پناه غوښتونکی یا غیر رسمی کډوال په حیث اغستې شوی وي.
- که چیری ددی ثبوت وی چی تاسو استوګنه درلوده یا مو د یو بل هیواد په لار سفر کړې دې که چیری هلته ستاسو دګتو نښی هم اخیستي نه وی.

که دا تعین اوشی چی کروشیا ستاسو دغوښتنلیک مسؤل نه دې دا فیصله به وکړی شی چی کروشیا ددی مسؤل هیواد نه دی او تاسو به د پورته ذکر شوو یو هیواد ته به انتقال کړی.

## 5 زما دبین اللملی تحفظ لپاره غوښتنلیک جمع کولو نه وروسته څه کیږی؟ یو اوریدنه مرکه به کیږی او فیصله به اجرا کیږی.

که دا واضح شی چی کروشیا ستاسو دغوښتنلیک مسؤل دې څه مهال وروسته له دی چی تاسو خپل غوښتن لیک د بین اللملی تحفظ لپاره داخل کړې تاسو به یو مرکی ته را وبلل شۍ. دا مرکه به ستاسو د یو کارمند سره وی چی دفیصلی دصادرولو دجریان لپاره ډیره مهمه ده. که دا تعین اوشی چی یو بله مرکه ستاسو سره پکار ده نو تاسو به د یو بل اضافی مرکی د نیټې، مهال او ځای نه خبر کړل شۍ. تاسو باید پخبله په دی مرکه کی شرکت وکړۍ غیر ددی نه چی ایا تاسو خپل قانونی نمائنده لرۍ او که نه. که چیری دا مرکه اوږده شی نو دې لپاره به ځان اماده ساتۍ.

دا ممکنه نه ده چی دمخکی نه دا اندازه اوشی چی تر فیصلی اجرا کیدو پوری به څومره وخت اخلی. دا ستاسو په مخصوص دوسیی باندې اړه لری. دا مرحله کیدی شی چی څو ورځی یا څو هفتی واخلی، خو دا څو میاشتی هم اخستې شی. ستاسو دبین اللملی تحفظ لپاره غوښتن لیک باید په شپږ میاشتو کی حل شی دکوم نیټی نه چی تاسو خپل عریضه جمع کړې وی. که چیری په شپږو میاشتو کی فیصله نشی اخستل کیدی نو تاسو ته به خبر در کړې شی چی څومره وخت کی به تاسو دفیصلی ټمه ساتۍ. زیات نه زیات وخت دفیصلی اخستو ۲۱ میاشتی دی.

رسمی فیصله کیدای شی مثبت وی (کله چی پناه یا فرعی تحفظ ورکړل شی) یا منفی وی (تاسو ته پناه در نه کړی شي).

## 6 ماته مرکې (hearing) په وخت کی څه ته زیاته توجه پکار ده؟ تاسو باید ټول مهم معلومات ورکړۍ.

دمرکی نه وړاندی کارمند به تاسو ته دمرکی کړنلاری تشریح/ واضح کړی. یو ترجمان ستاسو د ژبی یا بله ژبه چی تاسو وائی او پری پوهیږ ی مرکه کی برخه اخلی. تاسو خواست کولی شۍ چی تاسو ته دِ هم ستاسو هم جنس مرکه کوونکی او ترجمان درکړې شی، که چیری ممکنه وی نو تاسو ته به درکړل شی. که تاسو غواړۍ چی کارمند او ترجمان ستاسو هم جنس وی تاسو ته پکار ده چی دخپل دبین اللملی تحفظ غوښتنلیک ریکارډ کولو نه وړاندی کارمند خبر کړ ی هغوی ددی ترتیب وکړل شی چی د عریضی جمع کیدو او د مرکی په وخت کی ستاسو هم جنس تن ګډون اوکړی.

رسمی کارمند به دا وژغوری چی ستاسو په هیواد کی څه کیږی او تاسو نه به نور سوالونه دهغه معلوماتو په باره کی چی تاسو په اولنی مرکه کی ذکر کړی وو پوښتنه کوی، یا دبین اللملی تحفظ لپاره خپل غوښتن لیک کی ذکر کړی وو. هرڅه بیان کړی ځکه چی دا ستاسو ددوسیی لپاره مهمه ده، ولی تاسو خپل هیواد پرښود، او څنګه او دچا لخوا تاسو ځورول شوی ئي. بغیر له څه ویری/خوف نه ووائي ځکه چی هر څه تاسو وائی په شمول ستاسو شخصی معلوماتو په پټه سره ساتلی شی، دا به هیڅکله ستاسو هیواد ته نشی ورکولی یا کم بل صلاحیت لرونکو ته چا چی په کړنلاری کی برخه نه وی اخستی. که تاسو ته څه معلومات (data) یاده نه وی، نیټې یا ځایونه، مه یریږۍ او دغلط معلوماتو ورکولو نه ډډه وکړۍ.

که چیری تاسو هیڅ اسناد نه لری چی ستاسو هویت ثابث کړی او یا دخپل سفر په دوران کی دبل چا اسناد استعمال کړی وی نو تفصیل ورکړ ۍ دا ولی؟ کارمند به هغه ټول اسنادونه چی تاسو سره دي چیک به کړی.

که تاسو په څه خبره پوه نه شۍ او یا تاسو نور تفصیل/وضاحت غواړی ددی غوښتنه وکړۍ.

رشتیا وائی او تفصیل ورکړۍ.

ځان سره هغه ټول اسنادونه او عکسونه راواخلۍ چی په مرکه کی تاسو سره مرسته کوی، لکه پخپل هیواد کی ځورولو ثبوتونه (دپولیس سمن (غوښتل) قضاوتونه، تهدید خطونه، دقید ثبوت، طبی تصدیق نامی، د ورځپاڼی مطلوبه برخی وغیره او نقل ځان سره اوساتی.

مرکې نه انکار مه کوۍ ځکه چی دا ستاسو مرسته نه کوی. که تاسو مریض ئی یا تاسو مرکې دحاضریدو دمخنوی یو عادلانه / حق جانب دلیل دی نو تاسو زر تر زره د استقبالی مرکز کارمند خبر کړی. که چیری تاسو په دوه ورځو کی دننه دمرکې دټاکلی شوی نیټی نه ورسته په مرکه کی خپل غیر حاضریدل ثابت نه کړو نو اجراآت به فسخ شی، ددی مطلب دا چی تاسو به دهغه ټولو حقوقو نه محروم شی کوم چی دبین اللملی تحفظ غوښتونکی په حیث تاسو ته حاصل وي.

که دمرکی په اوږدو کی تاسو ستړیوالی محسوس کړی نو تاسو همیشه دیو مختصر وقفی لپاره خواست کولی شۍ.

شاید په مرکه کی تاسو نه سوالونه پوښتنه وکړیشی چی دهغی ځواب ورکولو کی تاسو وارخطا شۍ. رسمی کارمند ته ددی په حقله ووائي خو دا په ذهن کی یاد ولرۍ چی کیدی شی دداسی سوالونو ځوابونه ستاسو دبین اللملی تحفظ یا فرعی تحفظ په خواست باندی دفیصلی په جریان کی مرسته کولی شی. هرڅه چی تاسو سره په ماضی کی شوی وي تاسو ته په هغی کی شرم پکار نه دې او هیڅ څوک به تاسو سره په دی قضاوت نه کوی.

دمرکی په اخر کی کارمند دیو ترجمان په مرسته به تاسو ته دمرکی ټول یاداښت ولولی. که چیری تاسو داسی څه ټکی یا خبره بیامونده چی ستاسو په خیال صحیح نه ده لیکل شوې او یا دلیکلو نه پاتی ده نو کارمند ته سم دلاسه ووائي هغه به ئی سم کړی ددې نه مخکی چی تاسو پری امضاء وکړۍ. یو ځل چی تاسو دمرکی په یاداښت کی امضاء وکړل نو ددی مطلب دا وی چی هر څه چی په یاداښت کی لیکل شوی هغه څه دي چی کوم تاسو د مرکی په وخت ویلی دي.

که تاسو فکر کوۍ چی څه تاسو وائی ترجمان هغه صحیح ترجمه نه کوی او یا تاسو په دی قانع نه ئی څنګه چی کارمند دا مرکه اداره کوی نو تاسو عکس العمل ښکاره کړۍ او دبل ترجمان یا کارمند تقاضا وکړۍ. ددی غلط استعمال مه کوۍ ځکه چی مرکه کی متعدد کسان حاضر وی څوک چی دا تصدیق کولی شی چی حقیقت څه وو.

> دا ضروری ده چی تاسو رښتیا ووائی، ممکنه تتوالی/ ناڅرګندتوب ابهام او بی ثباتی چی ستاسو په بیان کی وی تصفیح کړۍ او په تفصیل سره بیان کړۍ چی ولی تاسو خپل هیواد پریښود؟